# دبربرانو حاکمیت

وطنداره زر را ویښ شه چي وطن دي ورانیږي
بربران حاکمان شوي شتمني دي تول لوټیږي
مجاهد ، طا لب ، اشرار د پنجاب تول ګوډاګیان
ستا اولس یرغمل کړي زوړاو ځوان ستا ځوریږي
ښځي تول بند یا ن په کور وتي نشي له خپل کوره
د بربرو واکمني دي د ځنګل قانون چلیږي
دوی دانجنو په مخ مکتبونه یي تول تړلي
دغایب رهبر په امر چي محضر کي نه ښکاریږي
ببر ږیرو خیټورو له دیو بنده طا لبا نو
د آی اس آی دا بچیا ن بی غیرتو نه شرمیږي
اجبا ری حجاب پر ښځو په متروکو تحمیل کړي
دوی دښځو په وړاندی هیڅ له کرکه نه مړیږي
دوی یوه هم دخپل پلار په کانډ ر لوي شوی نه دي
سپړنو کرغیړنو بی هویته تول اوسیږي
دوی له سره افغا ن نه دی مریی د پاکستان دی
افغا ن هغه کسا ن وی چي پرخلک خپل رحمیږي
دنهضت اود پیشرفت نه دوی هریوروی ګردان دي
د سیا سی اسلام په لوښه لکه مچ تول غورځیږي
دوی د دین اود اسلام له ارکا نو بی خبر دي
استدلال کولي نه شي له پوهانو دوي ډاریږي
دوی د افغا ن ښځو په وړاندي لري ذاتاً ډیرکرکه
حا ل چي بی کمک د ښځو یو تولنه نه جوړیږي

طالبانو په دي پوه شي چي مو لمر په کوزیدو دي
نن سبا افغان اولس تېول په مخ کي مو دریږي
تاسي خپل حاکمیت ته مشروعیت نه دي ورکړي
نا مشروع حاکمیت مو پرګنو کی نه چلیږي
کارنا مي مو اولسو ته له یوسره تېول معلوم شو
چي ماغذوکي موڅه نشته واک موهره ورځ کمیږي
زه «مل» ستاسو کړنی ډیر په ځیر سره تل څارم
زه پوهیږم چي پر تا سودافغا ن تندر اوریږي

*****

جرمنی «2022-05-23»